Historically, Pakistan adopted relatively more generous policies towards Afghan migrants. However, in recent years, particularly under mounting economic and security pressures, the country's stance on this issue has become increasingly restrictive. In 2023, in response to deteriorating economic and security conditions, the Pakistani government decided to expel over one million undocumented Afghan migrants from its territory. This decision, made without ensuring the necessary infrastructure for safe, dignified, and voluntary return, has been met with widespread condemnation from the Afghan government and the international community.
Human Rights Watch and Amnesty International have repeatedly asserted that Pakistan's actions violate international conventions pertaining to refugee rights. Widespread arrests, police harassment, confiscation of property, and the homelessness of migrants are among the human rights violations occurring in this context.
In addition, the UN High Commissioner for Refugees (UNHCR) and numerous Western nations have urged Pakistan to respect the rights of migrants and refrain from forced deportations and inhumane treatment.

**Global Apathy and Racial, Cultural, and Political Discrimination**

One of the most lamentable aspects of this humanitarian crisis is the relative silence of the global media regarding the issue of the forced deportation of Afghan migrants from Pakistan. While the migration crises involving Ukrainian and Palestinian refugees have received widespread media coverage and international support, Afghan migrants remain largely ignored. This glaring injustice in global responses reflects racial, cultural, and political biases in how human crises are addressed.
The Pakistani government's treatment of Afghan migrants, rather than being solely a security or political decision, has now escalated into a full-fledged humanitarian crisis. The international community must go beyond mere political statements and take concrete actions to alleviate the suffering of millions of Afghan refugees. Indifference to this issue will only deepen the wounds of a nation already weary from war, poverty, and discrimination. The global community must exert pressure on the Pakistani government to halt forced deportations and facilitate a proper legal review of refugees' status.
Afghan migration to Pakistan is a complex phenomenon with significant human, social, economic, and security implications—an ongoing narrative of suffering, hope, challenges, and the relentless struggle for survival. Addressing this issue requires equitable, humane, and sustainable solutions that safeguard the rights of migrants while also considering Pakistan's concerns. Regional and international cooperation, support for Afghanistan's reconstruction, and assistance for host communities can provide a pathway for better managing this humanitarian crisis. #

# د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو...

...د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر محمد اسحاق ډار په مشرۍ پلاوي سره چې په رسمي سفر کابل ته راغلی، وکتل.

په دې کتنه کې چې په ګلخانې ماڼۍ کې ترسره شوه او د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي امیرخان متقي، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع او په پاکستان کې د افغانستان اسلامي امارت سفیر محترم مولوي سردار احمد شکیب هم حضور درلود، د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ته ښه راغلاست ووایه او په سیاسي او اقتصادي مسایلو سربېره یې د افغان کډوالو د اجباري اخراج په اړه خپلې اندېښنې شریکې کړې. د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء له پاکستان څخه تر دې مهاله د افغان کډوالو د کوربه توب مننه وکړه او وې ویل، په ورستیو کې له افغان کډوالو سره ناوړه چلند د منلو نه دی او په کلکه یې غندو. دا ډول کړنې نه یوازې فاصلې ایجادوي، بلکې پر تېرو ټولو ښو مناسباتو د بطلان کرښې راکاږي، خدای دې وکړي دغه سفر د دواړو ورونو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا لامل وګرځي. محترم رئیس الوزراء افغانستان او پاکستان دوه مسلمان ګاونډي هیوادونه وبلل چې په سیاسي، اقتصادي، دیني او فرهنګي برخو کې ډېر مشترکات لري، باید موجودو ستونزو ته د خبرو له لارې اساسي حل لارې ولټول شي او د خبرو ترځنګ عمل مهم دی.

محترم ملا محمد حسن اخند په ډیورنډ فرضي کرښه د تورخم دروازې بندولو ته په اشارې وویل، د اقتصادي اړیکو پراختیا د دواړو هیوادونو اړتیا ده، هغه عوامل چې سیاسي او اقتصادي اړیکې خرابوي باید مخنیوی او له تکرار څخه یې ډډه وشي. محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د افغان مهاجرینو د اجباري اخراج په اړه وویل، پاکستان باید د مسلمان او ګاونډي هیواد په توګه د اسلامي او بین المللي اصولو مطابق د افغان کډوالو باعزته ستنولو ته زمینه برابره کړي. نوموړي وویل، پاکستان د دې پر ځای چې له اسلامي امارت سره د افغان کډوالو د تدریجي ستنولو بهیر کې همکاري وکړي، په یو طرفه اقداماتو ستونزې زیاتوي. له پاکستان څخه مو جدي غوښتنه ده چې له افغان کډوالو سره بد چلند پای ته ورسوي. د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء راغلي پلاوي ته ډاډ ورکړ چې د افغانستان خاوره به د ګاونډیو په شمول د نړۍ د هېڅ هیواد پر ضد ونه کارول شي، د اسلامي امارت پالیسي په متقابل احترام او حسنه اړیکو ولاړه ده، پاکستان کې ناامني نه غواړي او قول او عمل یې یو دی.

ورپسې د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر محمد اسحاق ډار کابل ته په خپل سفر خوښي وښوده او وې ویل، د دې سفر موخه له افغانستان سره د اقتصادي او سیاسي اړیکو پراختیا او پیاوړتیا ده او هڅه کوو په شریکه موجوده ستونزې د خبرو له لارې حل کړو. نوموړي وویل، پاکستان غواړي د دواړو هیوادونو ترمنځ رامنځته شوی واټن په لوړه کچه د خبرو اترو له لارې لمنځه یوسي. د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر څرګنده کړه، د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا لپاره به افغانستان ته د پاکستان له لارې په صادرېدونکو زیات شمېر توکو لس سلنه مالیه پای ته ورسوي او د سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره نور مهم اقدامات هم په پام کې نیول شوي دي. په پای کې ښاغلي اسحاق ډار د باور فضا په رامنځته کولو ټینګار وکړ او وې ویل، د پاکستان شته اندېښنې باید له پامه ونه غورځول شي. پاکستان په باعزته توګه د افغان کډوالو د ستنولو بهیر ته ژمن دی او د اسلامي امارت رئیس الوزراء ته یې له خپل لوري په دې برخه کې د عاجلو اقداماتو ترسره کولو ډاډ ورکړ.#

# اعلامیه امارت اسلامی افغانستان در پیوند به روز های...

...در ماه ثور سال ۱۳۵۷ هجری شمسی کمونستان علیه حکومت آن زمان کودتای نظامی کردند و زمینه تجاوز شوروی سابق بر حریم ملت مسلمان و غیور افغان مساعد گردید. آنان می خواستند که افغانستان را مستعمره و افغان ها را غلامان خود بسازند و مفکوره کمونیستی خویش را بالای آنان تحمیل نمایند؛ اما مجاهدین و مسلمانان آزادی خواه ما با دستان خالی اجازه تحقق رویای استعماری شوروی در قرن بیستم را ندادند. با شجاعت ۱۴ سال مبارزه کردند و در هشتم ماه ثور سال ۱۳۷۱ آزادی خود را به دست آوردند. الحمدلله والمنة

امارت اسلامی کودتای هفتم ثور و هجوم کمونستان به حریم مقدس ما را محکوم می کند و هشتم ثور را روز تاریخی آزادی و افتخار کشور و آن را نعمت بزرگ الهی میداند که باید شکر آن را ادا کنیم. در آن هنگام مردم مظلوم و رنج کشیدۀ افغانستان خوشحال بودند که ثمره جهاد چهارده سالۀ خود را بدست آورده اند و دیگر در وطن در سایه نظام شرعی زندگی آرام و خوش خواهند داشت، اما چند شخص جاه طلب و تشنه قدرت بار دیگر آرمان های مقدس را در آتش جنگ های تنظیمی و اختلافات میان گروهی شعله ور نمودند و آرزوهای بزرگ مردم مسلمان افغانستان را که همانا برقراری و استحکام نظام سوچه شرعی بود، با خاک یکسان ساختند. ما از فرارسیدن روزهای تاریخی هفتم و هشتم ثور یکبار دیگر در حالی یادبود میکنیم که امارت اسلامی به هدف خود که برای اعاده استقلال وطن، آوردن وحدت و اتفاق، از بین بردن هرج و مرج و نفاذ نظام شرعی تاسیس شده بود، نایل آمده است. اکنون زمان آنست که از نظام شرعی شدیداً حفاظت صورت گیرد و بخاطر دوام و قوام افغانستان با ثبات و مزین با نظام اسلامی تمام افغان ها یک مشت واحد و متعهد باشند.#

وفقناالله و ایاکم لما تحب و ترضی.
امارت اسلامی افغانستان

# افغانستان او قزاقستان د اقتصادي همکاریو د پراختیا لار نقشه...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان له قزاقستان سره ګډ بنسټیز مشترکات لري چې د تاریخ په اوږدو کې یې د دواړو هېوادونو پر سوداګریزو اړیکو خورا مثبت اغېز لرلی او د پانګونې فرصتونه یې زیات کړي. محترم اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د اسلامي امارت له حاکمیت راپېږخوا د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې ورځ تر بلې د زیاتېدو او پیاوړتیا په حال کې دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، افغانستان له قزاقستان او د سیمې له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو او سوداګریزو مناسباتو د پیاوړتیا لپاره قوي هوډ لري او په همدې موخه یې په دې وروستیو کې د کابل او استانې ترمنځ درې میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ کچې رسېدو په موخه د لار نقشې مسوده لاسلیک کړې ده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال څرګنده کړه، د دې لار نقشې پلې کولو سره به په بېلابېلو اقتصادي برخو لکه سوداګرۍ، کرنې، د کانونو استخراج، ټرانسپورټ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت کې د پام وړ مثبت بدلون رامنځته او په اړوندو برخو کې به پانګونه زیاته شي. محترم اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت چمتو دی د افغانستان په کانونو کې د پانګونې موجود فرصتونه له قزاقستان سره شریک او د کرنیزو توکو د حفظ، قرنطین او مالدارۍ برخو کې موافقتنامه لاسلیک کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز د دواړو هېوادونو ترمنځ د بانکي اړیکو د پراختیا او د افغانستان د نفتو ساحو په توسعه او اکتشاف کې پر ګډې همکارۍ ټینګار وکړ.

همدارنګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د اوسپنې پټلۍ له لارې د هېواد د وارداتو او صادراتو کچې د زیاتوالي په موخه د عملیاتي شرکت په تأسیس کار شروع کړی، چې په لنډ وخت کې به قزاقستان ته ورمعرفي شي. له دې سره به د سیمې هېوادونو ترمنځ د اوسپنې پټلۍ له لارې سوداګریزې چارې نورې هم ګړندۍ شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د سیمې هېوادونو سره په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې همکارۍ ته ژمن دی، په دې اړه اسلامي امارت د څلورو هېوادونو (افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان) د واحد مرکز اړوند موافقتنامې مسوده ترتیب او له قزاقستاني لوري سره یې شریکه کړې ده. همدا راز محترم اقتصادي مرستیال د کابل او استانې ترمنځ د الوتنو پر پیل، افغان سوداګرو ته د قزاقستان د ویزو ورکړې په برخه کې د اسانتیاوو په رامنځته کولو او د سیمې هېوادونو سره په ګډه جوړېدونکې اقتصادي مجمع کې د افغانستان پر فعالې برخې اخیستو ټینګار وکړ. ورپسې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي سیریک ژومانګارین وویل، قزاقستان د پرمختللي او خپلواک افغانستان ملاتړ کوي او وېني چې په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته کېږي. ښاغلي ژومانګارین زیاته کړه، همدې پرمختګونو ته په کتو د قزاقستان او افغانستان ترمنځ سوداګریزې او اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي. نوموړي وویل، قزاقستان د تورغونډۍ – هرات – سپین بولدک اوسپنې پټلۍ پروژې د تورغونډۍ - هرات فاز د عملي چارو د پیل لپاره د ۵۰۰ میلیونو ډالرو پانګونې او همدا راز په هرات کې د دغې پروژې د چارو پرمخ بېولو لپاره د لوجستیکي او ترانسپورټي شرکت جوړولو ته چمتو دی. د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال زیاته کړه، قزاقستان د یادې پروژې ترڅنګ د انټرنیټ لین غځولو پروژې ته هم چمتووالی لري، چې له مخې به یې په ارزانه بیه افغانستان ته انټرنیټ ورکړي. نوموړي وویل، قزاقستاني پانګوال په افغانستان کې په مختلفو برخو په ځانګړي ډول د کانونو، نفت او ګازو کې پانګونې ته چمتو دي او په دې برخه کې یې تخنیکي ټیمونه کابل ته راغلي. د دغې لیدنې پر مهال قزاقستاني لوري افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د پروازونو پیل، بانکي همکاریو، د ترانزیټ او دوه اړخیزې سوداګرۍ زیاتېدو او همدا راز د روغتیا او تعلیم برخو کې ګډو همکاریو ته چمتووالی وښود. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوسپنې پټلۍ په یاده پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ میلیونه ډالرو پانګونې او لوجستیکي او ترانسپورټي شرکت له جوړولو او همدا راز په مختلفو برخو کې د قزاقستاني پانګوالو د پانګونې لپاره د چمتووالي هرکلی وکړ او هغوی ته یې د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.#

# د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله په مشرۍ په ۱۴۴٦ هـ ق کال کې د اقتصادي کمېسیون...

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله په مشرۍ د ۱۴۴٦ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۲۸ مه، ۲۹ مه او ۳۰ مه نېټه د اقتصادي کمېسیون دوهمه ځانګړې غونډه ترسره شوه. غونډې ته د ۱۴۴٦ هـ ق کال د جمادی الاولی میاشتې په درېیمه نېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په لومړۍ ترسره شوې غونډه کې د شوو پرېکړو تعقیبي راپورونه وړاندې شول.

په لومړۍ غونډه کې د چارو ادارې لوی ریاست په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه، څو د ښاري پلانونو مطابق د امارتي ځمکو د نمرو د پلور او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې اسانتیاوو په اړه طرزالعمل جوړ کړي. یادې کمېټې په همدې موخه جوړ شوی طرزالعمل په دوهمه غونډه کې د ارزونې لپاره وړاندې کړ، چې د یو لړ راغلو تعدیلاتو له ځای پرځای کولو وروسته به د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر واستول شي.

د دغه طرزالعمل له مخې هېوادوال کولی شي په شخصي ځمکو کې د ځمکې د تثبیت پروسه په ۱۵ ورځو کې ترسره او په یوه میاشت کې یې نقشه ویزه او چارې یې پیل کړي. همدارنګه په لومړۍ غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ته دنده سپارل شوې وه، څو په ټولو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو په موخه د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته ځمکه انتقال کړي.

د دغه پرېکړې د تطبیق په اړه یادو وزارتونو خپل راپور په دوهمه غونډه کې وړاندې کړ چې په ډېری ولایتونو کې د ۸۰ زره جریبه ځمکې انتقال ترسره شوی او په یو شمېر ولایتونو کې دا پروسه په نږدې وخت کې د بشپړېدو په حال کې ده. په دې سره به په ټولو ولایتونو کې د صنعتکارانو د ځمکې د نشتون ستونزه حل شي.

همداراز په لومړۍ غونډه کې د عامې روغتیا وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته هم دنده سپارل شوې وه، څو د انساني، حیواني او کرنیزو درملو، روغتیایي محصولاتو او خوراکي توکو د قاچاق د مخنیوي په موخه کړنلاره جوړه کړي. یادې کمېټې دغه کړنلاره جوړه او د ارزونې په موخه یې شریکه کړه، چې د یو لړ راغلو تعدیلاتو له ځای پرځای کولو وروسته به د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شي.

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په دوهمه ځانګړې غونډه کې د یو منظم میکانیزم له مخې په کال کې د شپږو میاشتو لپاره بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د څارویو د صادراتو اجازه ورکړل شوه. له شپږو میاشتو وروسته به د پخوا په څېر اجراات ترسره کېږي.

همدارنګه د چارو ادارې لوی ریاست ته دنده وسپارل شوه، څو له اړوندو وزارتونو سره په همغږۍ په امارتي ادارو کې د پانګوالو او سوداګرو د کارونو د ژر طی‌مراحل او په ټولو برخو کې د شته ستونزو د حل په موخه جامع طرزالعمل جوړ کړي. دغه طرزالعمل دې د تاییدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته واستوي او له هغه وروسته دې د منظورۍ له پاره د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله دفتر ته واستوي. د یادونې وړ ده چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په لومړۍ غونډه کې د شویو پرېکړو د تطبیق په موخه اړوندو وزارتونو او ادارو خپل راپورونه د اقتصادي کمېسیون په دوهمه ځانګړې غونډه کې وړاندې کړل.#

# په فاریاب کې راستنو شویو کډوالو ته د استوګنې ښارګوټی...

...او ښارجوړولو وزارت مسلکي او تخنیکي انجنیرانو سروې او ډیزاین کړی چې ټول ښاري امکانات په کې په پام کې نیول شوي دي.

د پرانیستې مراسمو کې یې د ریاست الوزراء اداري مرستیال وویل، د اسلامي امارت رهبرې او مسؤلین دوامداره هڅې کوي، ترڅو راستنو شویو هیوادوالو ته د هوساینې زمینه او ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. محترم مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه، راستنو شویو کډوالو ته د غوره خدماتو وړاندې کولو په موخه د اسلامي امارت له لوري دولس ګونو کمېټو ته دنده سپارل شوې ده. نوموړي څرګنده کړه، شپږو کمېټو ته په بندرونو او مېشت ځایونو کې د بېړنیو خدماتو وړاندې کولو دنده سپارل شوې چې راستنېدونکو هیوادوالو ته د تثبیت، ثبت او استقبال، د خښلو اوبو برابرولو، خوړو، لنډمهاله مېشتېدنې او تر اصلي ځایونو پورې د دوی د لېږد او پاتې نورو کمېټو ته د کډوالو د اړتیا وړ ضرورتونو له هغې ډلې د دوی ښوونې او روزنې ته د رسیدګۍ، دایمي مېشتېدنې (د ښارګوټو جوړول او د استوګنې نمرو وېش) او نور اړین خدمتونه په غوره ډول ترسره کړي. د یاد ښارګوټي د پرانیستې مراسمو په پای کې یو شمېر راستنو شویو کډوالو ته د استوګنې د نمرو فورمې هم ووېشل شوې.#

# جلسۀ کمیسیون اداری برگزار...

...ابتدا کمیته‌های مؤظف در مورد فعالیت‌ها و اجراآت شان پیرامون وظایف سپرده شده از سوی این کمیسیون، معلومات ارائه کردند. متعاقباً روی موضوعات مربوط وزارت ترانسپورت و هوانوردی و ریاست عمومی ادارۀ امور بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه‌های فوق الذکر تصامیم لازم اتخاذ گردید. در اخیر جهت تدقیق بیشتر روی بعضی از موضوعات شامل آجندا، به کمیته‌های جداگانه وظیفه سپرده شد.#

# د ریاست الوزراء اداري مرستیال په چین ولسي جمهوریت...

...چین کې د افغانستان سفارت د کړنو او فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل وې ویل، د دې سفارت مسؤلین په مختلفو په ځانګړې ډول د سوداګرۍ او پانګونې برخو کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا لپاره هڅې کوي. محترم مولوي بلال کریمي زیاته کړه، د دې سفارت کونسلي چارې په دوامداره ډول فعالې دي او په دې هیواد کې مېشتو سوداګرو او افغانانو ته د غوره خدمتونو وړاندې کول زموږ لومړیتوب دی.

په مقابل کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په چین کې د افغانستان اسلامي امارت سفارت فعالیتونه او کړنې وستایلې او وې ویل، د دې سفارت مسؤلین باید د دواړو هیوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د لا زیاتې پراختیا لپاره لازمه هڅه وکړي. محترم مولوي عبدالسلام حنفي همداراز په چین کې د اسلامي امارت سفیر ته د سفارتي چارو د ښه والي او هلته مېشتو افغانانو ته د غوره کونسلي خدمتونو وړاندې کولو په موخه لازمې لارښوونې وکړې.#

# قزاقستان ۵۰۰ میلیون دالر برای ساخت خط آهن تورغندی...

...ساخت خط آهن تورغندی-هرات سرمایه گذاری می کند و برای پیشبرد امور این پروژه در هرات، شرکت لوژستیکی و ترانسپورتی ایجاد خواهد شد. طبق خبرنامه دفتر معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا، ژومانگارین در دیدار با محترم ملا عبدالغنی برادر آخند گفته که قزاقستان در کنار این پروژه، برای پروژه تمدید لین انترنت نیز آمادگی دارد، که به اساس آن انترنت به قیمت ارزان به افغانستان عرضه خواهد شد.

ژومانگارین تصریح کرد که سرمایه گذاران قزاقستانی آماده اند تا در بخش‌های مختلف، به خصوص در معادن، نفت و گاز افغانستان سرمایه گذاری کنند و تیم های تخنیکی آنها نیز به کابل آمده اند. در این دیدار، جانب قزاقستان آمادگی خود را برای صدور ویزه به تاجران افغان، آغاز پروازها میان دو کشور، همکاری های بانکی، گسترش ترانزیت و تجارت دوجانبه و همچنین همکاری های مشترک در بخش های صحت و معارف اعلام کرد.

از سوی دیگر، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند تاکید ورزیده که افغانستان عزم قوی برای تقویت روابط اقتصادی و تجارتی با قزاقستان و سایر کشورهای منطقه دارد و به همین منظور در این اواخر، مسوده نقشه راه را برای افزایش حجم تجارت میان کابل و آستانه به سه میلیارد دالر امضا کرده است. به گفته معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا، با تطبیق این نقشه راه، در بخش‌های مختلف اقتصادی مانند تجارت، زراعت، استخراج معادن، ترانسپورت، ترانزیت، خط آهن و صنعت تغییرات مثبت چشمگیری به میان خواهد آمد و سرمایه گذاری ها در این عرصه ها افزایش خواهد یافت. وی افزود که امارت اسلامی آماده است فرصت‌های سرمایه گذاری در معادن افغانستان را با قزاقستان شریک نموده و در زمینه حفظ، قرنطین محصولات زراعتی و مالداری، موافقتنامه هایی را به امضا برساند. همچنان معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا بر گسترش روابط بانکی میان دو کشور و همکاری های مشترک در توسعه و اکتشاف ساحات نفتی افغانستان تاکید ورزیده است.#

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت ارتباطات عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## توافق افغانستان و اوزبیکستان برای آغاز مطالعات امکان سنجی پروژه افغان-ترانس

وزارت فواید عامه اعلام کرده است که افغانستان و اوزبیکستان برای آغاز مطالعات امکان سنجی پروژه «افغان-ترانس» به توافق رسیده اند.

محمد اشرف حق شناس سخنگوی این وزارت، گفت که معین خط آهن وزارت فواید عامه در سفر خود به اوزبیکستان این توافق نامه را با رئیس اداره خط آهن آن کشور امضا کرده است.

با توجه به اهمیت پروژه افغان-ترانس، برخی آگاهان آن را به سود کشورهای منطقه، از جمله افغانستان، می دانند.

پیش از این، نماینده ویژه روسیه برای افغانستان گفته بود که مقام های حکومت برای حضور در فورم کازان خواهند آمد و قرار است درباره ساخت ۵۷۳ کیلومتر خط آهن پروژه افغان-ترانس نیز با آنها گفتگو صورت گیرد.#



## وزارت زراعت: چین می خواهد در بخش زراعت افغانستان سرمایه گذاری کند

محترم مولوی عطاءالله عمری، سرپرست وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در دیدار با یک هیأت و نمایندگان سکتور خصوصی چین در کابل در مورد گسترش همکاری‌ها، سرمایه گذاری در بخش‌های زراعت، مالداری، آبیاری و شریک سازی تجارب چین با افغانستان گفتگو کرده است.

وزارت زراعت از این دیدار خبر داده و گفته است که این هیأت چینی بر علاقه مندی بخش خصوصی بیجینگ به سرمایه گذاری در سکتور زراعت و مالداری افغانستان تأکید کرده و از آمادگی‌ها برای آغاز عملی پروژه ها پس از فراهم سازی سهولت هایی از جمله اجاره زمین، اطمینان داده است.

این هیأت چینی همچنان با محترم الحاج نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت گفتگو کرده است. در این دیدار، محترم عزیزی تاکید ورزیده که آنان تمامی سهولت‌ها را برای سرمایه گذاران خارجی فراهم می کنند.

گفتنی است که طی سه سال گذشته، اکثریت شرکت‌های چینی علاقه مندی شان را برای سرمایه گذاری روی معادن کشور ابراز کرده‌اند. با این حال، این نخستین بار است که سرمایه گذاران چینی می‌خواهند در بخش زراعت در افغانستان سرمایه گذاری کنند.#

## د ۱۴۴٦ هـ ق کال د حج بعثي د غړو لپاره ښوونیز سیمینار پیل شو

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د لارښوونې او څارنې لاندې، د حج بعثې د غړو لپاره درې ورځنی ښوونیز او روزنیز سیمینار په کابل کې پیل شو.

د سیمینار موخه دا ده چې د سعودي عربستان د حج مراسمو پر مهال د بعثې غړي د خپلو دندو د لا ښه ترسره کولو، افغان حاجیانو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو او د اړینو اسانتیاوو برابرولو لپاره مسلکي روزنه ترلاسه کړي.

د پرانیستې مراسم د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شول. وروسې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د عرفان او دیني ځایونو د چارو د انسجام مرستیال شیخ مولوي عزیزالرحمن منصور پرانیستونکې وینا وکړه. نوموړي د بعثې غړو ته د سیمینار اهمیت تشریح کړ او ټینګار یې وکړ چې باید دا ستر مسؤلیت په اخلاص، صداقت او وفادارۍ سره تر سره شي.

همداراز، شیخ الحدیث مولوي مولاجان د خالص نیت د اهمیت په اړه خبرې وکړې، ویې ویل چې نیت د هر عبادت بنسټ دی او د خدای تعالی د رضا لپاره خالص نیت، عمل ته ارزښت او قبولیت ورکوي.

د سیمینار په دویمه نیمايي کې د حج بېلابېلو کاري کمیټو عملي پېژندنه وشوه. د ټرانسپورټ، تغذیې، روغتیا، هوايي ډګرونو، تسکین او ترحیل کمیټو مسؤلینو خپل کاري پلانونه بعثې غړو ته بیان کړل.

د یادونې وړ ده چې په دې درې ورځني پروګرام کې به د غړو د مسؤلیتونو، کمیټېزم همغږي، او د حاجیانو لپاره د صادقانه خدمت کولو مهارتونه روزل کېږي.#

## په فاریاب کې راستنو شویو کډوالو ته د استوګنې ښارګوټی پرانیستل شو

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د فاریاب ولایت په دولت اباد ولسوالۍ کې اجباري راایستل شویو کډوالو ته د استوګنې ښارګوټی پرانیست.

د یاد ښارګوټي د پرانیستې په مراسمو کې د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست محترم مولوي حمدالله نعماني، د فاریاب والي محترم مولوي عبدالاحد فضلي، ځایي مسؤلینو، یو شمېر علماوو، مشایخو، مجاهدینو او متنفذینو هم حضور درلود.

دغه ښارګوټي چې څلور زره جریبه ځمکه باندې جوړېږي، د کور...

## د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر سره د ریاست الوزراء اداري مرستیال کتنه



د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر محمد اسحاق ډار په مشرۍ پلاوي سره چې په رسمي سفر کابل ته راغلی، په ارګ کې وکتل.

په دې کتنه کې چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست الحاج نورالدین عزیزي، د کورنیو چارو، مالیې، اقتصاد، ترانسپورټ، د کډوالو او راستنېدونکو چارو او کانونو او پټرولیم وزارتونو معینانو هم حضور درلود، د دوه اړخیزه همکاریو په ځانګړي ډول اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیټي موضوعاتو او له پاکستان څخه د افغان کډوالو د اجباري اخراج په اړه بحث او خبرې وشوې.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او مل پلاوي ته د ښه راغلاست پر مهال وویل، هیله لرم ستاسې سفر د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا او ځینو مسائلو د حل په برخه کې ګټور واقع شي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال زیاته کړه، افغانستان او پاکستان تاریخي او دوستانه اړیکي لري او باید خپل هیوادونه او ملتونه د ښه والي پر لور بوځو، هیله لرم د دواړو هیوادونو د چارواکو د دې ډول غونډو جوړولو او تګ را تګ له لارې ځینې مسائل د تفاهم او ډیالوګ له لارې حل شي.

وروسې د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال وویل، افغانستان او پاکستان له یوه بل سره ورونه دي او ګڼ شمېر دیني او فرهنګي مشترکات لري، همداراز په بېلابېلو برخو له هغې ډلې د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې اړیکې د پرمختګ په حال کې دي. نوموړي په اقتصادي، سوداګرۍ او ترانزیټي برخو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شویو هوکړه لیکونو د تطبیق په خاطر د خپل هیواد غوښتنې او وړاندیزونه مطرح او وې ویل، موږ به د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراختیا او همدا راز افغان سوداګرو ته د ویزو صادرولو په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړو.

وروسته د ریاست الوزراء اداري مرستیال له افغان کډوالو سره د نامناسب چلند په اړه وویل، دغه ډول کړنې د دواړو هیوادونو د خلکو پر اذهانو منفي اغېز پرېباسي، له همدې امله دې برخې ته د پاکستاني چارواکو د ځانګړې پاملرنې غوښتنه کوو.

د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر محمد اسحاق ډار وویل، افغان کډوال د یوې منظمې پروسې له لارې په باعزته او احترامانه ډول خپل هیواد ته ستانه شوي، د افغانانو د مالونو او جایدادونو او افغانستان ته د هغوی د شخصي وسایلو د لېږد ستونزه به هم حل شي.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي دېته په اشارې چې په ټول هیواد کې سراسري امنیت تأمین دی وویل، موږ د سوداګریزو اړیکو پراختیا، د افغانستان له لارې د منځنۍ اسیا هیوادونو سره د پاکستان اتصال او د دواړو هیوادونو تر منځ د مختلفو او نورو لویو سیمه ییزو پروژو چې د دواړو هیوادونو د اقتصادي ودې او د خلکو د هوسایني لامل ګرځي، بشپړ ملاتړ کوو. د ریاست الوزراء اداري مرستیال څرګنده کړه، مطرح شوي مسایل په ځانګړي ډول ترجیحي تعرفه یا PTA، په سپین بولدک کې د ۲۴ ساعته خدماتو پراختیا، پر افغان سوداګرو د مالیاتو راکمول او د دواړو هیوادونو ترمنځ نورې ټولې پروژې او هوکړه لیکونه دې ژر عملي شي. د دې لیدنې په پای کې پاکستاني پلاوي د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال لخوا برابرې شوې مېلمستیا کې ګډون وکړ.#

## په جوزجان کې راستنېدونکو کډوالو ته د استوګنې ښارګوټی پرانیستل شو



د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان ښار کې راستنېدونکو کډوالو ته نوی ښارګوټی پرانیست.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال په داسې حال کې چې د ښار او کور جوړولو وزارت سرپرست محترم مولوي حمدالله نعماني، د جوزجان مرستیال والي محترم مولوي نورالدین عمیر او د اسلامي امارت نورو سیمه ییزو مسؤلینو هم حضور درلود، د دې ښارګوټی د پرانیستې په مراسمو کې د خبرو پرمهال وویل، د اسلامي امارت مشران او مسؤلین له ځنډ پرته کوښښ کوي چې راستنېدونکو هیوادوالو ته د هوسایني او ارامۍ زمینه برابره او لازمې اسانتیاوې ورته چمتو کړي.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي له ملي تاجرانو ، ټولو هغو هېوادوالو چې مالي توانايي لري او د اسلامي هېوادونو له خیریه بنسټونو او موسسو څخه وغوښتل چې له افغان کډوالو سره چې له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه رااېستل کېږي تر خپله وسه همکاري او مرسته وکړي.

د یادولو چې دا ښارګوټی دوه زره جریبه مساحت لري او ټول ښاري امکانات به کې په پام کې نیول شوي او مستحقو کډوالو ته د یوې شفافې پروسې له لارې وېشل کېږي.#